
د افغانستان اسلامي امارت

د سترې محکمې مطبوعاتي کنفرانس

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست




# د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې ۱۴۴۴ هـ ق کال د اجراآتو لنډ راپور

Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

## د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د اجرااتو لنډ راپور !

بسم الله الرحمن الرحیم

د رسنیو د مرکز قدرمنو مسئولینو، د رسنیو محترمو استازو او شریفو هیوادوالو ته:

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

الله جل جلاله د نړۍ او په هغې کې د اوسېدونکو وګړو د پیداکولو سره هغوی ته د لابنه ژوند د تېرولو لپاره د قضاء نظام هم رالېږلی دی. دا طبعي ده چې په نړۍ کې ژوند کوونکي مخلوقات همداسې په هر هیواد او ټولنه کې اوسېدونکي وګړي د خپل ژوند د انساني اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو بل ته محتاج دي او د ټولو وګړو چارې یو په بل پورې تړلې دي.

د اسلام مبین دین د خلکو ترمنځ په خپلو ټولنیزو معاملاتو کې د تعامل لپاره ځانګړي اصول او ضوابط ټاکلي دي چې له امله یې ټولنه محفوظه او د وګړو ژوند سالم ګرځي.

خو کله کله قصداً یا سهواً د شرعي اصولو د نه مراعاتولو له امله د خلکو ترمنځ اختلاف، بغض او دښمني پیداکېږي چې د یو بل د حقونو تر پایماله کولو پورې نوبت رسېږي، نو الله علیم او خبیر ذات د خپلو بندګانو د مصالحو د مشکلاتو د حل او د جګړو د فصل لپاره قضاء مشروعه او لازمه وګرځوله ترڅو د الله جل جلاله پر ځمکه عدالت تامین او د وګړو د حقونو ساتنه وشي.

دا سترعمل د انبیاوو، د هغوی د خلفاوو او په هرعصر کې د برګزیده هستیو وظیفه ده چې په اړه یې، الله جل جلاله فرمایي:

اعوذبالله من الشیطان الرجیم: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُم وقال الله تعالی ، وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ . [سورت النساء ٦٥]

د عبدالله بن عمررضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمائل :

إن المُقْسِطين عند الله على منابر من نور عن يمين الرحمن عزوجل و كلتا يديه يمين، الذين يعدلون في حكمهم وأهليهم وما وَلُوْا

په ټولنه کښې د ظلم د مخنیوي، د مظلوم د کومک، د شر و فساد د دفعې، د ټولو هیوادوالو د هر نوعه حقوقو همداسې د هغوی د ځان، مال او آبرو د ساتنې او خلکو د اصلاح لپاره د محاکمو شفافیت مهم اصل دی او د الهي حدودو تنفیذ د معاشرې په امن کې مهم رول لوبوي.

د افغانستان اسلامي امارت قضائیه قوه د شرعي اصولو په چوکاټ کې د الهي اوامرو و تعمیل او د شرایطو په پوره کېدلو سره د حدودو و تنفیذ ته ژمنه ده.

دا چې په شریعت کې د حدودو او قصاص تنفیذ کره شرایط لري نو د شرایطو د نه شتون له امله په بعضې اوقاتو کې د حدودو عدم اجراء د عوامو او په بعضو وختونو کې د خواصو د نیوکې سبب ګرځي چې د دې لامل عموماً په شرعي او قضائي اصولو نه پوهېدل دي.

# د سترې محکمې مطبوعاتي کنفرانس

## د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست



## د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د اجرااتو لنډ راپور

**د هیواد شریف اولس او د قدر وړ رسنیو ته !**

دغه چې تاسو ته وړاندې کوم د قضائیه قوې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د اجرااتو، فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور دی.

د قضائیه قوې د ۱۴۴۴ هـ. ق کال تشکیل(۱۴۰۲۴) بستونو ته رسیږي چې په دې کې (۲۹۱۷) قضائي بستونه، (۱۷۸۵) اداري بستونه او (۱۳۹۴) د خدماتي کارکوونکو، (۸۳۰ ) د حقوقو ریاست اړوند بستونه او (۷۰۹۸) د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي عمومي ریاست بستونه شامل دي.

په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د اړتیا سره سم د قضائیه قوې تشکیل، د لاسوهنې او تشکیلاتي تورم څخه د مخنیوي او د قضائي خدماتو د لاښه والي په موخه مکمل جوړ او مراحل یې ترسره شوي دي.

### ۱. د سترې محکمې د اجراآتو راپور :

په دغه موده کې د سترې محکمې عالي شورا(۳۲) عادي او فوق العاده غونډې دایرې کړې دي، د عالي شورا په دې ناستو کې د (۲۳۳) بېلا بېلو موضوعاتو په اړه تر لازمو تصامیمو وروسته فیصلې تصویب او صادرې شوې دي، دغه راز د سترې محکمې محترم عالي مقام د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې (۱۱۴۹۵) عریضې احکام او مربوطه محاکمو ته راجع کړې دي.



Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af




۲. **د درې ګونو محاکمو اجراآت**: په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې (۹۸۵۹) جلده دوسیې د سترې محکمې اړوند دیوانونو، (۲۸٦٧٠) جلده دوسیې د مرافعه محاکمو او (۱۷۰۰۸۸) جلده دوسیې د مرکز او ولایاتو د لومړنیو محاکمو چې ټولې (۲۰۸٦۱۷) جلده دوسیې کیږي په دوران کې وې. له دې جملې څخه (۱۲۰۰۹۵) دوسیې په ابتدائي مرحله کې (۲۲۹۱۴) په استیناڤي مرحله کې او (٦۲۱۰)دوسیې د تمیز په مرحله کې چې مجموعه یې (۱۴۹۲۱۹) کېږي حل او فصل شوې دي چې له دې ډلې (۲۸۷۴) قضیې د ښځو د حقونو اړوند دي، او ۴۳٦۳۰ دوسیې فعلاً درې ګونو محکمو کې تر کار لاندې دي. پر دې سربېره د هېواد محاکمو د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې (۱٦۰۸۴۲) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

د یادونې وړ ده چې د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې د حل او فصل شوو دوسیو شمېر د ۱۴۴۳ هـ ق کال په پرتله څو برابره ډېر دی، دغه ارقام د دې ښکاروندیې کوي چې د افغانستان اسلامي امارت محاکم ورځ تر بلې په خپلو چارو کې لابهبود راولي او هڅه کوي چې د هیوادوالو دوسیو ته د شریعت مطابق په کم وخت کې رسېدنه وکړي.

۳. **د قضائي تفتیش په برخه کې:**

**الف: عادي تفتیش:**

د سترې محکمې د تفتیش عمومي ریاست او د جنوب غرب زون د تفتیش ریاست د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د (۹۴۰) محاکمو تفتیش ترسره کړی دی.

د سترې محکمې د تفتیش عمومي ریاست په عادي تفتیش کې ۵ د سترې محکمې د مرکزي تمیز دېوانونه، ۱۸۱ ستینافي دېوانونه، ۱۱٦ د ښارې محاکمو اړوند دېوانونه، ۳۰ د وثایقو، ۱ سنادو او مخزن اړوند امرېتونه، ۲۹۰ د ولسوالیو ابتدائیه محاکم شامل دي.

**ب: د اقتضائي تفتیش برخه کې:**

د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې ۲۰۸ اقتضائي قضیې د سترې محکمې د تفتیش عمومي ریاست ته راجع شوې دي، له دې ډلې یې ۱۸۷ قضیې بررسي او راپور یې د سترې محکمې له عالي مقام سره شریک شوی دی.




Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

## د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د اجراآتو لنډ راپور




۴. **د تجدید د نظر د عرایضو د څېړنې په برخه کې** : په دې کال کې د تجدید نظر اړوند (۳۸۹) موضوعات ترلاسه شوي او په اړه یې لازم اجراآت ترسره شوي دي.

۵. **د صلاحیتونو په برخه کې اختلافات**، د محکمو تر منځ د صلاحیتونو په اړه راغلي اختلافاتو (۹۳) حقوقي، جزایي، تجارتي او فامیلي دوسیې حل او فصل کړې دي . او صلاحیت لرونکو محکمو ته یې په اړه لازم هدایات ورکړل شوي دي .

٦. **د استهداگانو په برخه کې**: د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې (۱۰۰۱) استهداګانې چې د محکمو او اړونده مراجعو څخه راغلي وې د شرعي اصولو په رڼا کې جواب شوې دي او د دې جملې څخه یو شمېر موضوعات چې عامه بڼه یې درلوده د شرعي اصولو د ښه تطبیق او د قضایي وحدت د ایجادولو په موخه د متحدالمال په ډول ټولو محاکمو ته لیږل شوېدي.

۷. **د محکمو د تبدیلۍ په برخه کې** ، په دې برخه کې (۲۰۲۳) جزایي ، مدني، تجارتي احوال شخصیه او فامیلي موضوګانو په اړه جلا جلا تصویبونه صادر او لازم تصمیمونه نیول شویدي .

۸. **د ګمارنې، تحلیل او مقرراتو او قانوني اسنادو برخه کې:**

- د څارنې او ارزونې کړنلاره، د نظامي محکمو طرزالعمل، دولسوالیو دمرافعې، ښاري او ابتدایي محاکمو لایحه، د قطعي قبالو د ترتیب او څرنګوالی طرزالعمل، د جنایي قضیو د درج کولو لارښوونې، د قضائیه قوې د کارمندانو د ظرفیت لوړولو لارښوونې، د اداري فساد د جرمونو د خبر ورکوونکو د ساتنې قانون د تعدیل پلان، په اداري لحاظ د امربالمعروف اونهی عن المنکر قانون د اصولو او شریعت له مخې نهایي او د تصویب لپاره د سترې محکمې عالي شورا ته واستول شول.
- (۲۴) ډوله شرعي اسناد د ښه غور لپاره تدقیق اومطالعاتوعمومي ریاست لخوا تثبیت شوي او مطالعه شوي.
- د سترې محکمې لخوا (۳۳) مقررات او طرزالعملونه چې د امیرالمؤمنین حفظه الله له فرمان سره سم د اداراتو لخوا جوړ شوي، وروسته عدلیې وزارت ته لیږل شوي او د عدلیې وزارت تر کتنې وروسته د سترې محکمې لخوا کتل او تائید شوي او د مشرتابه مقام ته د منظورۍ لپاره استول شوی.



# د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې د ۱۴۴۴ هـ ق کال د اجراآتو لنډ راپور

**۹. له قضائي منسوبینو څخه د ازموینې د اخیستو برخه کې:**

د سترې محکمې قضائي مفتشینو د محاکمو د عادي تفتیش او بررسۍ ترڅنګ په قضائي بستونو کې د مخلصو، وړ، مسلکي او پرهیزګاره کسانو د جذب په موخه له څه باندې ۹۰۰ کسانو څخه چې قضات، مفتیان او محررین په کې شامل دي، د وړتیا معلومولو په موخه ازموینه اخیستې ده، دغه راز د سترې محکمې د قضاتو د تقرۍ او د تشکیل د بررسۍ او تکمیل کمېټې چې د سترې محکمې قضائي معاون، د سترې محکمې اداري معاون، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس او د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس یې غړیتوب لري د قضائي بستونو لپاره له (۶۱۴) علماء کرامو څخه د قضاء مسلک کې ازموینه اخیستې ده.
دغه راز د قضائي تفتیش پلاوي د سترې محکمې د عالي مقام په هدایت د محاکمو د قضائي نصاب د بشپړېدو په موخه په کمبود بستونو کې د نویو قضاتو د مقررۍ په منظور په یو شمېر ولایتونو کې له ۶۴۷ علمای کرامو څخه د قضاء مسلک کې ازموینه واخیسته او راپور یې د سترې محکمې له عالي مقام سره شریک کړ.

**۱۰. د زندانیانو د وضعیت معلومولو برخه کې:**

د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې د سترې محکمې د عالي مقام په هدایت د قضائیه قوې مؤظفو پلاوو له ټولو زندانونو څخه جلا جلا لیدنه وکړه، د هر زنداني په اړه یې معلومات حاصل کړل، د دوی ستونزې یې واورېدې او اړوند ادارو ته یې لارښوونه وکړه چې د زندانیانو لپاره د اړتیا وړ اسانتیاوې رامنځته کړي.

**۱۱. د قاضیانو د مقررولو او بدلولو برخه کې :**

د قاضیانو د مقررېدو پروسه داسې تنظیم شوېده چې هغه علماء چې وړه او لویه دوره یې بشپړه کړې وي او د قضاء او افتاء په برخه کې کاري مخینه او تخصصي روزنه ولري او په تقوا،اخلاص، امانت دارۍ او رښتینولۍ باندې سمبال وي، د هغوی څخه لومړی د سترې محکمې د ازموینې کمېټه چې تشکیل یې پورته ذکر شو تحریري او بیا تقریري ازموینه د یوې شفافې او رڼې پروسې له لارې اخلي، کوم وخت چې یو کس په دواړو ازموینو کې بریالی شي نو د بریالي شوي قاضي معلومات بیا د سترې محکمې د تشکیل له کمېټې سره شریکېږي په وروستۍ مرحله کې یې د مقررۍ پیشنهاد د مشرتابه محترم عالي مقام ته استول کیږي چې د استعداد او اهلیت سره سم په مناسبو بستونو کې مقررېږي.



WWW Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

# د سترې محکمې مطبوعاتي کنفرانس

## د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست




### ۱۲. د ظرفیت لوړنې برخه کې:

د قضائیه قوې محترمو منسوبینو لپاره د (۱۹) مسلکي، مدیریتي او کمپیوټر زده کړې روزنیز پروګرامونه چې عبارت دي له: (دنوو مقررو شوو کارمندانو لپاره مقدماتي رهبری، د ولایاتو په مرافعه محکمو کې د وثایقو آمرینو لپاره د شرعي قبالو، نکاح خط، فیصلې، ابلاغ، جلب اوعرض پاڼو ترتیبولو اړوند روزنیز سیمینار، مقدماتي مهارتونو، کمپیوټر مهارتونو زده کړه، اداري مراسلات، تدارکات،بودجه او مالي چاري او دثلاثه محاکمو حقوقي اوجزائي اندارجونو روزنه) تر سرلیکونو لاندې په لار اچول شوي.

### ۱۳. د قضائي سیمینارونو برخه کې:

د سترې محکمې په تشکیل کې د قضاتو او نورو قضائي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په موخه په مرکز او جنوب غرب زون اړوند د قضائي عملي زده کړو عمومي ریاست موجود دی، یاد ریاستونه د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جریان کې ډېرې لاسته راوړنې لري، په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د هیواد د (۳۴) ولایتونو اړوند محاکمو (۲۳۷۶) قضاتو، مفتیانو، محررینو او نورو قضائي منسوبینو ته لنډمهاله قضائي روزنیز سیمینارونه جوړ او ترسره شوي دي.

### ۱۴. د قضایاوو د مدیریت سیستم:

د قضیو د ثبت سیستم په ۱۴۴۴ کال کې د هیواد په ټولو محکمو کې (۸۳۸۸۷) فورمې ثبت کړي دي چې په کې (۳۶۶۰۰) جزایي قضیې او (۴۷۲۸۷) حقوقي قضیې په اکسل شیټونو کې ثبت شوي دي.



Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

## ۱۵.د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو برخه کې:

د افغانستان اسلامي امارت قضائيه قوه د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جريان کې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو برخه کې هم د پام وړ لاسته راوړنې درلودې چې خلاصه يې په لاندې ډول بيانوو:

**بهرني اړيکي:** د افغانستان اسلامي امارت د اړتيا پر مهال له نورو بهرنيو ادارو سره بشپړه همغږي لري، د مربوطه موضوعاتو په تړاو په اصولي لارو برابر اقدام کوي.

**مطبوعاتي برخه کې:** قضائيه قوه د هيواد د محاکمو د فعاليتونو د انعکاس او د قضاء په برخه کې د هيوادوالو د عامه پوهاوي لوړولو لپاره په چاپي، ويډيويي، تصويري، غږيز او ليکلي بڼه نشرات کوي، د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جريان کې (۱۹) ګڼې ميزان جريده او يوه ګڼه د قضاء مجله چاپ کړي دي، په پښتو او دري ژبو يې د قضائي موضوعاتو لسګونه اخبار ميزان، ولس او قضاء، اسلامي عدالت، ستره محکمه په اونۍ کې او نورې ويډيويي خپرونې ثبت او نشر کړې دي، د ويب سايټ او نورو ټولنيز پاڼو له لارې يې د ټول هيواد د محاکمو د قضائي او اداري اجرآتو اړوند سلګونه خبرونه نشر کړي دي.

په دې سربېره د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د مرافعه محاکمو او د مرکزي زون د ديوانونو څخه اونيز، مياشتني او ربعوار قضائي راپورونه ترلاسه کړي او په ټاکلي وخت يې له خپلو رسمي ادرسونو نشر کړي دي.



# د سترې محکمې مطبوعاتي کنفرانس

## د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست




### د مالي او اداري چارو عمومي رياست عمومي او اساسي کړنې

د افغانستان اسلامي امارت قضائيه قوې د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جريان کې په مالي او اداري برخو کې هم د پام وړ لاسته راوړنې لري چې لاندې څو موارد يې د بېلګې په ډول يادوو:

د حقوقو عمومي رياست چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه د عالي مقام د ۱۴۴۴/۶/۴ نېټې د (۱۷۶۹) ګڼې حکم په بنسټ له عدليې وزارت څخه بېل او د سترې محکمې په تشکيل پورې ونښلول شو په همدې موخه ټول تاسيسات ، لوازم او توکي د عدليې وزارت سره په همغږۍ په ګوته ، سجل او تسليم شول.

د سترې محکمې د مځکني تشکيل علاوه د ۱۴۴۴ هـ ق کال په جريان کې د حقوقو د عمومي رياست او قضاتو د محافظت قوماندانۍ اړوند منسوبينو ته د معاشونو، کاري دفترونو، نقليه وسايطو او ټکنالوژۍ برخه کې خدمات اجرا او ړاندې شوي دي.

د اسلامي امارت د محترمې کابينې د ۱۴۴۴/۳/۱۸ نېټې د (۷) ګڼې د نهمې پرېکړې او ۱۴۴۴/۳/۲ ګڼې او لسمې پرېکړې په اساس د هغو غوښتنو ، تامیناتو، او د قرضو د تثبيت او معلومولو په موخه چې د فتحې څخه مخکې په قضائيه قوه باندې وو لګه (د پخوانيو کارکوونکو معاشونه، د تامیناتو مالي وجهه، د عادي او پراختيايي بوديجې له درکه د پروژو کړنې او قرضونه چې په تېر کې په ستره محکمه د قرارداد په بڼه پاتې وو او د اړونده ادارو لکه دصفائي ، حق الزحمې، بريښنا، او اوبه رسونې قرضونه په ګوته شول او د نورو کړنو په موخه د ماليې د محترم وزارت سره شريک شول تر څو موړ وتوانيږو چې د اړونده ارګانونو شرعي حقوق د اسلامي او شرعي نظام تر چتر لاندې تثبيت کړو.

د تعميراتو او بيا رغونې په برخه کې توانيدلي يو چې په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې (۲۲) لويې او کوچينۍ ساختماني پروژې د مرکز او ولايتونو په سطحه پلي کړو، همدا راز په پام کې لرو چې د سترې محکمې کارکوونکو ته د غوره کاري فضاء په چمتو کولو سره په مرکز او ولايتونو کې د ښاري محاکمو لپاره (۲۲) او د ولسواليو د لومړنيو محاکمو لپاره (۵۴) ودانۍ جوړې او ګټې اخيستنې ته وسپارو کوم چې اوس مهال د کرايي کورونو څخه د دفترونو په موخه ګټه اخلي.

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه مقام د ۱۴۴۴/۷/۲۶ نېټې او (۳۴۲) ګڼې لارښوونې مطابق چې د قضاء په برخه کې د شرعي اصولو د تامين او پلي کيدو په موخه له ډېرې عايداتي سرچينو څخه صرف نظر وشو چې اوس مهال ټول شرعي نکاح خطونه او مختلف النوع وثايق په وړيا ډول د ګرانو هيوالو له پاره ويشل کيږي؛ خو بيا مو هم په روان ۱۴۰۲ مالي کال کې د مرکزي عوايدو په ډول د تېر نظام د وخت د محررينو څخه د بهادرو (قيمت لرونکو) اسنادو د باقيدارۍ او د افغان ټيلي کام د مخابراتي شرکت د آنتنونو د کرايو له درکه (۱۲۱۵۷۹۸) افغانۍ راټولې کړيدي . او دولايتي محاکمو په برخه کې مو (۲۲۱۳۰۴۷) افغانۍ د پخواني نظام د محررينو څخه راټولې او د سترې محکمې د عوايدو حساب ته د دولت په وارداتو کې زياتې شويدي .

**۱۷. د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې:**

- د قضائي احصايي د ډيټابيس رامنځته کول.
- د قضائي تفتيش (پلټنې) عمومي رياست ډيټابيس رامنځته کول.
- د کابل ولايت د وثايقو د مخزن ډيټابيس رامنځته کول.
- د تدقيق او مطالعاتو د عمومي رياست ډيټابيس رامنځته کول.



Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

# د سترې محکمې مطبوعاتي کنفرانس

## د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست




**د ۱۴۰۲ هجري شمسي کال (۱۴۴۵ هـ ق کال) عمده پلانونه:**

**قضائي تفتیش:** د قضائیه قوې د ۱۴۴۵ هـ ق کال د پلان له مخې به د سترې محکمې لوړ رتبه پلاوي وخت پر وخت د محاکمو د چارو د ارزونې لپاره ولایتونو او ولسوالیو ته سفر کوي او د مرافعه او ابتدائیه محاکمو چارې به له نږدې ګوري.

**قضائي سیمینارونه:** د افغانستان اسلامي امارت قضائیه قوې د پلان له مخې به د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې د ټول هیواد په کچه د محاکمو قضائي کارکوونکو ته لنډمهاله قضائي سیمینارونه جوړ او ترسره کېږي.

**د اداري کارکوونکو ظرفیت لوړونه:** د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې به د قضائیه قوې اداري کارکوونکو لپاره هم د ظرفیت لوړنې بېلا بېل سیمینارونه او رونیز پروګرامونه جوړ او ترسره شي.

د قضائیه قوې لخوا د حقوقو ریاست د فعالیت لپاره جوړ شوی طرزالعمل به د ۱۴۴۵ هـ ق کال په جریان کې تطبیق کېږي.

دغه راز به د محاکمو د قضائي او اداري چارو د چټکتیا او لا بهبود په موخه بېلا بېلې کړنلارې او پلانونه تطبیق شي.

ومن الله توفیق